# د افغانستان اقتصاد څارنه

نړیوال بانک

اپریل 2025
(حمل 1404)

Afghanistan Futures
ASSESS, ANALYZE, ADVISE

د افغانستان د اقتصاد دغه میاشتنۍ څارنه، د افغانستان پر اقتصاد او ټولنې د نړیوال بانک د څېړنې، څارنې او تحلیلي راپوروнو د پروګرام، **د افغانستان راتلونکي**، برخه ده. د **افغانستان راتلونکي**، هڅه کوي چې د نړیوالو ټګلارو د مباحثې لپاره معلومات چمتو کړي، څکه نړیواله ټولنه ارزونه کوي چې څه ډول د افغانستان د خلکو ملاتړ کولی شي. د افغانستان د اقتصادي څارنې دغه راپور د خصوصي سکتور، کورنې ژوند او جنسیت په اړه د سروې ګانو، او همدا راز د سکتوري راپورونو چې د افغانستان د پرمختګ معلومات ورکوي، او شپږ میاشتنی مهم راپور دی، سره یو ځای کیږي.

# مهم ټکي

په **2024** مالي کال کې د افغانستان **2.5** سلنه محدوده اقتصادي وده د بې وزلۍ او بې ثباتۍ په کمښت کې مرسته کوي.

په 2024 مالي کال کې د افغانستان اقتصاد د اټکل له مخې 2.5 سلنه وده کړې ده، چې په پرلپسې توګه د دویم کال لپاره د اقتصادي پراختیا نښه ده. په داسې حال کې چې له اقتصادي ودې څخه یو څه ثبات څرګندیږي، خو د ژوند په معیارونو کې د پام وړ بدلون لپاره بسنه نه کوي. د بې وزلۍ او بې کارۍ کچه تر اوسه پر ځای پاتې ده، او د خلکو د پیرلو ځواک له کمښت سره مخ دی. د اقتصاد لید لوری او راتلونکی د ناڅرګنده تګلارو، نړیوال مالي سیستم ته د محدود لاسرسي، د بشري او فزیکي پانګې د کمزوري جوړښت له امله کمزوری برېښي. دغه ننګوني د بې ثباته سوداګرۍ او کمیدونکو بهرنیو مرستو له کبله نورې هم زیاتیږي، چې پر پانګونې، شخصي لګښتونو او د خدماتو پر وړاندې کولو منفي اغېزه لري.

د **2025** کال په مارچ کې له دوو کلونو وروسته په لومړي ځل انفلاسیون کچه مثبت شوه، چې لامل یې له خوراکي توکو پرته د نورو اجناسو په بیو کې لوړوالی او د تقاضا بېرته رغېدنه وه، په داسې حال کې چې د **2024** مالي کال په بهیر کې د خوراکي توکو په بیو کې د کمښت له امله د انفلاسیون کچه منفي وه.




د 2025 کال د مارچ په میاشت کې، په افغانستان کې د مستهلکینو لپاره د توکو بیې د یوې میاشتې په موده کې 0.2 سلنه لوړې شوې، چې لامل یې د خوارکي توکو په بیو کې 1.3 سلنه لوړوالی او د انرژۍ د بیو لوړېدل (د سون لرګیو په بیو کې 4 سلنه او د مایع ګاز په بیو کې 3 سلنه زیاتوالی) وو. په هر حال، له خوراکي توکو پرته د نورو اجناسو بیې 0.8 سلنه راټیټې شوې، چې پایله یې د انفلاسیون په کچه کې کمښت شو. تر ټولو زیات کمښت د لباس، فرنیچر، ټرانسپورټ او هستوګنې په بیو کې ولیدل شو. د ډیزلو په بیه کې 2 سلنه کمښت، د پټرولو د بیې 2 سلنه زیاتوالي اغېزه کم رنګه کړه.

د انفلاسیون کلنۍ کچه نږدې له دوو کلونو وروسته د لومړي ځل لپاره مثبت شوه، او د 2025 کال په مارچ کې یې کچه 0.3 سلنې ته ورسېده، چې د 2024 کال له منفي 9 سلنه څخه لوړه وه. د انفلاسیونه په کچه کې زیاتوالی د غیر خوراکي توکو په بیو کې د 1.6 سلنه لوړوالي له امله و، چې د افغان کډوالو د بېرته راستنیدو او په منځنۍ کچه د اقتصادي فعالیتونو لومړنۍ اغېزې او په تدریجي توګه د تقاضا رغېدنه څرګندوي. په هر حال، د امریکا له خوا د مرستو کمښت ښایي په راتلونکي کې په تقاضا منفي اغېزې ولري. د خوراکي توکو په بیو کې د انفلاسیون کلنۍ کچه 1.0 سلنه کمه شوې، چې لامل یې د وارداتو په کچه کې ثابتوالی او د افغانۍ لوړ ارزښت و. د اصلي انفلاسیون کچه (چې د خوراکي توکو او انرژۍ بیې په کې شاملې نه دي) 1.8 سلنې ته لوړه شوه، چې د ډیفلاسیون په فشارونو کې د کمښت څرګندونه کوي.




**سرچینه:** د احصایې او معلوماتو ملي اداره

په 2024 مالي کال کې د مستهلکینو لپاره د توکو بیې 4.2 سلنه راکمې شوې، چې په 2023 مالي کال کې د منفي 7.7 سلنه انفلاسیون دوام و. په بیو کې کمښت تر ډیره د خوراکي توکو په بیو کې د 7.5 سلنه کموالي له امله و، چې د وارداتو ثابتې کچې او د افغانۍ لوړ ارزښت ورسره مرسته وکړه. د غیر خوراکي توکو بیې 0.7 سلنه کمې شوې. په داسې حال کې چې د بیو کمښت ښایي لنډ مهاله هوساینه رامنځته کړي، خو دوامداره ډیفلاسیون د هېواد دننه کمزورې تقاضا څرګندوي، چې د اقتصاد بیا رغېدنې، پانګونې او د عوایدو پر وړاندې خطرونه راولاړوي.

د **2025** کال په اپریل کې د بهرنیو اسعارو د لیلام د سختو شرایطو په نرخ کې افغانۍ **0.7** سلنه ارزښت له لاسه ورکړ، په داسې حال کې چې د تبادلې حقیقي موثر نرخ لوړوالي څخه څرګندیږي چې د نورو اسعارو پر وړاندې سیالي کمزورې شوې ده، سره له دې چې د سوداګرۍ کسر یو څه کم شوی دی.

د 2025 کال په اپریل کې افغانۍ د امریکایي ډالر پر وړاندې 0.7 سلنه ارزښت له لاسه ورکړ، او یو ډالر په 71.6 افغانۍ تبادله کېده، په داسې حال کې چې په مارچ کې د تبادلې نرخ 71.1 افغانۍ و. د افغانۍ په ارزښت کې کمښت د مارچ په میاشت کې له 3.6 سلنه ارزښت تر لوړېدو وروسته رامنځته شو، چې د امریکا د مرستو د ځنډ او د انفلاسیون د فشارونو له کبله د بهرنیو اسعارو د تبادلې سخت شرایط منعکسوي.

په مارچ کې افغانۍ د افغانستان د سوداګرۍ مهمو شریکو هېوادونو د اسعارو پر وړاندې ارزښت وموند، چې له امله یې د تبادلې نومي موثر نرخ په میاشتني ډول 3.5 سلنه لوړ شو. له دغه وضعیت سره د افغانستان بانک له خوا د بهرنیو اسعارو دوامداره لیلام، او د اختر پر مهال هېواد ته د ډالرو جریان مرسته وکړه، چې په موقتي توګه یې د سیالیت کچه او د افغانۍ لپاره تقاضا لوړه کړه. د انفلاسیون توپیرونه په نظر کې نیولو له مخې، د تبادلې حقیقي موثر نرخ 4.1 سلنه لوړ شو، چې د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د رقابت د کمښت څرګندونه کوي، سره له دې چې د سوداګرۍ کسر دوام لري.

د 2025 کال په اپریل کې افغانۍ په کلني توګه 0.4 سلنه ارزښت تر لاسه کړ، او د 2024 کال د اپریل له 71.9 افغانۍ څخه یې ارزښت 71.6 افغانۍ ته لوړ شو، چې له دغه وضعیت سره د سوداګرۍ په کسر کې میاشتني کمښت مرسته وکړه.

**د افغانۍ پر ډالر د تبادلې میاشتنۍ اوسط نرخ**




د **NEER** او **REER** – شاخص (جولای **2021=100**) (لوړ شاخص = د افغانۍ ارزښت زیاتوالی)




**سرچینه:** د افغانستان بانک، نړیوال مالي سیستم، او د نړیوال بانک کارمندان

په **2024** مالي کال کې د افغانستان د سوداګرۍ کسر **48.2** سلنه زیات شوی، چې لاملونه یې د وارداتو زیاتوالی، د صادراتو کمښت، او د افغانۍ لوړ ارزښت دی، سره له دې چې په مارچ میاشت کې د سوداګرۍ کسر یو څه کم شو.

د 2024 مالي کال په اوږدو کې د افغانستان د سوداګرۍ کسر د 48.2 سلنه زیاتوالي سره، 9.4 میلیارده ډالرو (د ناخالص کورني تولید 45.4 سلنه) ته ورسېد، په داسې حال کې چې په 2023 مالي کال کې د سوداګرۍ کسر 6.3 میلیارده ډالر (د ناخالص کورني تولید 40.4 سلنه) و. د سوداګرۍ د کسر زیاتوالي څو عوامل لرل. د افغانۍ د لوړ ارزښت له کبله د وارداتي توکو بیې د هېواد په اسعارو ښکته راغلې، چې له امله یې د وارداتو کچه لوړه شوه، خو په ورته وخت کې یې د سیمې په بازارونو کې د افغانستان د صادراتي توکو د بیو له مخې د رقابت کولو وړتیا کمه کړه. پاکستان سره په سوداګرۍ کې دوامداره ستونزې—په موقتي توګه د پولو تړل، د تعرفو لوړول، او په ګمرکونو کې سختي کول—د صادراتو بهیر، په ځانګړي ډول د دبرو سکرو او منسوجاتو، نور هم محدود کړی دی.

په ورته وخت کې، د وارداتي توکو لپاره د هېواد دننه تقاضا په ثابته توګه لوړه شوه، چې یوه برخه یې د بهرنیو اسعارو له غیر رسمي یا ناثبت شویو بهیرونو څخه تمویل شوه، چې ښایي د بهر مېشتو له خوا د اسعارو د لېږد، شخصي انتقالاتو، یا د نامعلومو مرستو له لارې راغلې وي. د وارداتو زیاتوالي او د صادراتو کمښت له امله د سوداګرۍ کسر د پام وړ پراخه شو، چې د افغانستان په بهرني سکتور کې د جوړښتي کمزورتیاو، او د صادراتو او توکو په محدودو بازارونو د تکیې څرګندونه کوي.

**د افغانستان د سوداګرۍ کسر (میلیارد ډالر)**




**سرچینه:** اسیکوډا او د صنعت او سوداګرۍ وزارت

په **2024** مالي کال کې د افغانستان صادرات **1.79** میلیارده ډالرو ته کم شوي، چې عمده لامل یې د سکرو او منسوجاتو په صادراتو کې په زیاته اندازه کمښت و، سره له دې چې د خوراکي توکو صادرات ثابت وو او له هیوادونو سره د سوداګرۍ په برخه کې تدریجي تنوع رامنځته شوی ده.

په 2024 مالي کال کې ټول صادرات د 2023 مالي کال له 1.81 میلیارده ډالرو څخه لږ څه کم شوي، او 1.79 میلیارده ډالرو ته رسېدلي دي. دغه کمښت تر ډېره د سکرو په صادراتو کې د 64 سلنه راټیټېدو له امله و، چې 92 میلیونه ډالرو ته ورسېدل، ځکه چې پاکستان له خپلو پخوانیو عرضه کوونکو څخه واردات بېرته پیل کړل—چې د صادراتو په ټول کمښت کې یې ونډه 12 سلنه ده. د منسوجاتو صادرات هم د 14 سلنه کمښت سره، 242 میلیونه ډالرو ته رسېدلي، چې لاملونه یې د افغانۍ لوړ ارزښت، په نړیواله کچه د تقاضا کمښت، او د پاکستان له لوري د تعرفو لوړوالی و. برعکس، د خوراکي توکو صادرات د 4 سلنه زیاتوالي سره 1.31 میلیارده ډالرو ته رسېدلي، چې د چین له لوري د تعرفو معافیت او د کال په وروستیو کې له پاکستان سره د سوداګرۍ بیا سمون ورسره مرسته کړې ده.

په 2024 کال کې، د افغانستان د صادراتو 53 سلنه مصرفي توکي او 47 سلنه منځني خام مواد وو. د افغانستان د صادراتو لپاره پاکستان لا هم تر ټولو ستر بازار دی، که څه هم ونډه یې له 54 سلني څخه 45 سلني ته راټیټه شوې ده، په داسې حال کې چې د هند ونډه، چې زیاتره د خوراکي توکو صادرات دي، 34 سلنې ته لوړه شوې ده. ایران، قزاقستان، او ازبکستان ته هم صادرات زیات شوي، چې هر یو په ټولو صادراتو کې شاوخوا 3 سلنه ونډه لري. خوراکي توکو او منسوجاتو په ټولو صادراتو کې 82 سلنه ونډه لرله، په داسې حال کې چې په 2023 کال کې یې ونډه 71 سلنه وه.

د افغانستان صادرات (میلیارد ډالر): 2024




**سرچینه:** اسیکوډا او د صنعت او سوداګرۍ وزارت

د **2024** مالي کال په ترڅ کې د افغانستان واردات **37** سلنه زیات شوي، چې ټول ارزښت یې **11.16** میلیارده ډالرو ته رسېږي. دغه زیاتوالی د پانګوني توکو، خامو موادو او مصرفي توکو ته د لوړې تقاضا له امله و. ایران لا هم افغانستان ته تر ټولو ستر عرضه کوونکی هیواد دی.

په 2024 مالي کال کې د افغانستان ټول واردات 11.16 میلیارده ډالرو ته ورسېدل، چې د 2023 مالي کال له 8.14 میلیارده ډالرو سره په پرتله 37 سلنه زیات شوي دي. د وارداتو دغه چټک کلنی زیاتوالی تر ډېره د پانګوني لپاره د اړینو توکو او منځنیو خامو موادو په وارداتو کې د زیاتوالي له امله رامنځته شو، چې په ترتیب سره 49 سلنه او 43 سلنه زیات شوي دي. یادې دوه برخې د ټولو وارداتو 53 سلنه جوړوي، چې د تېر کال په پرتله دوه سلنه زیاتوالی، او د صنعتي او تولیدي فعالیتونو د پراختیا څرګندونه کوي. همدا راز، د مصرفي توکو واردات هم د تیر کال په پرتله 30 سلنه لوړ شوي، چې په ټولو وارداتو کې یې ونډه 40 سلنه ده.

په 2024 کال کې مهم وارداتي توکي ټرانسپورټي وسایل وو، چې 86 سلنه زیات شوي، معدني توکي لکه پټرول او سیمنټ 56 سلنه لوړ شوي، او کیمیاوي مواد 51 سلنه زیات شوي دي. د خوراکي توکو واردات هم 28 سلنه زیاتوالی ښیي. د وارداتو په ترکیب کې د پام وړ بدلون راغلی: ټرانسپورټي توکي د ټولو وارداتو له 7 سلني څخه 10 سلني ته لوړ شوي (1.04 میلیارده ډالر)، معدني توکي له 20 سلني څخه 22 سلني ته (2.41 میلیارده ډالر)، او کیمیاوي توکي له 7 سلني څخه 8 سلني ته لوړ شوي (0.84 میلیارده ډالر). افغانستان لا هم تر ټولو زیات واردات له ایران څخه کوي، چې په ټولو وارداتو کې یې ونډه 30 سلنه ده، چې بیا پاکستان د 16 سلني او چین د 7 سلنه ونډې لرلو سره دویم او درېیم ځای لري.

د افغانستان واردات (میلیارد ډالر): 2024




**سرچینه:** اسیکوډا او د صنعت او سوداګرۍ وزارت

**د 2025 مالي کال په لومړۍ میاشت کې د افغانستان عواید د تېر کال د همدې مودې په پرتله 11 سلنه زیات شوي، چې د غیر مالیاتي او سوداګرۍ اړونده عوایدو له زیاتوالي څخه سرچینه اخلي، که څه هم راټول شوي عواید له میاشتني هدف څخه لږ وو.**

د 2025 مالي کال په لومړۍ میاشت کې د افغانستان ټول داخلي عواید 18.5 میلیارده افغانۍ (شاوخوا 300 میلیونه ډالرو) ته ورسېدل، چې د ناخالص کورني تولید نږدې 1 سلنه جوړوي او د تېر کال د همدې مودې په پرتله 11 سلنه زیات شوي دي.

مالیاتي عواید د تېر کال د همدې مودې په پرتله 10.4 سلنه زیات شوي او 7.1 میلیارد افغانیو ته رسېدلي، چې د ټولو عوایدو په زیاتوالي کې 3.7 سلنه ونډه لري. د ګمرکي محصول عواید په لږ توپیر سره 1.8 سلنه زیات شوي او 5.0 میلیارده افغانیو ته رسېدلي، چې د پولو د ښه مدیریت او د تعرفو په جوړښت کې د وروستیو بدلونونو پایله ده.

غیر مالیاتي عوایدو د پام وړ مثبته وده کړې ده، چې د 20.3 سلنه زیاتوالي سره 6.3 میلیارده افغانیو ته رسېدلي، او د ټولو عوایدو په زیاتوالي کې یې ونډه 6.3 سلنه وه. د غیر مالیاتي عوایدو مهمې سرچینې له کانونو څخه حق الامتیاز، د سړکونو او ټرانسپورټي خدماتو له ټول پلازو، د فضا له لارې د الوتکو حق العبور فیسونه، او د اورګاډي له عوایدو څخه عبارت دي.

له نورو سرچینو څخه عواید نږدې دوه برابره شوي، چې د 2024 مالي کال د لومړۍ میاشتې له 37.7 میلیونه افغانیو څخه 89 سلنه زیات شوي، او د 2025 مالي کال په همدې موده کې 71.4 میلیونه افغانیو ته رسېدلي. که څه هم دغه عواید په مطلق ډول ډېر نه دي، خو د عمومي عوایدو په وده کې یې ونډه 0.3 سلنه وه، چې د متفرقه سرچینو څخه د عوایدو په ټولولو او راپور ورکولو کې پرمختګ څرګندوي.

### د عوایدو اقتصادي ډلبندي (میلیارد افغانۍ)




**سرچینه:** د مالي وزارت

**د 2025 مالي کال په پیل کې د معاشونو د ورکړې د مکلفیتونو له زیاتوالي سره لګښتونه 49 سلنه لوړ شوي، چې له امله یې د مالي فشارونو د زیاتېدو په غبرګون کې د دندو د کمولو پر پلان اقدام پیل شوی دی.**

د 2025 مالي کال په لومړۍ میاشت کې د حکومت لګښتونه 17.3 میلیارده افغانیو ته ورسېدل، چې د تېر کال د همدې مودې په پرتله 49.1 سلنه زیات شوي. په لګښتونو کې زیاتوالی تر ډېره د 2024 مالي کال له وروستۍ مودې څخه د پاتې معاشونو د ورکړې له امله رامنځته شوی. د ټول لګښت څخه 16.1 میلیارد افغانۍ – چې 93 سلنه جوړوي – یوازې د معاشونو او مزدونو لپاره تخصیص شوي دي، چې د معاش محوره مالي جوړښت پر دوام ټینګار کوي. د معاشونو دغه درروند بار د دولتي کارکوونکو زیات شمېر او د پراختیایي پروګرامونو او خدماتو وړاندې کولو لپاره د سرچینو په بیا وېش کې د انعطاف نشتوالی څرګندوي. په مقابل کې، د توکو او خدماتو لګښتونه یوازې 1.2 میلیارده افغانۍ وو، چې د عملیاتي او پروګرامونو اړوند لګښتونو پر دوامدار محدودیت دلالت کوي. د 2025 مالي کال د پیل د لګښتونو ترکیب یو ځل بیا د مالي سختیو دوام بنیي او دا څرګندوي چې متوازن او پراختیایي بودجوي تطبیق ته رسېدل لا هم له جدي ننګونو سره مخ دي.

د معاشونو د زیاتېدونکو فشارونو د کمولو په موخه، د طالبانو لنډ مهاله اداري اعلان کړی چې په امنیتي او ملکي سکتورونو کې نږدې د 90,000 دندو د کمولو پلان لري. په ورته وخت کې، ملي بودیجه لا هم تر بحث لاندې ده، او د "تشکیلاتو" (رسمي دندو شمېر) د کمولو اړوند مهمې پرېکړې لا هم نهایي شوې نه دي.

### د لګښتونو اقتصادي ډلبندي (میلیارد افغانۍ)




**سرچینه:** د مالي وزارت

# ضميمې

| بيې | مارچ 2025 | فبروري 2025 | جنوري 2025 | دسمبر 2024 | مارچ 2024 | مياشتنۍ تغير (%) مارچ 2025 | کلنی تغير (%) مارچ 2025 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **د مستهلک لپاره د توليزو بيو شاخص** | **131.0** | **130.7** | **128.5** | **128.4** | **130.6** | **0.2%** | **0.3%** |
| خوراکي توکي | 136.7 | 135.0 | 131.8 | 130.4 | 138.1 | 1.3% | -1.0% |
| تنباکو | 162.3 | 162.9 | 163.4 | 161.8 | 170.6 | -0.4% | -4.9% |
| لباس | 149.0 | 152.4 | 149.0 | 150.7 | 149.1 | -2.2% | -0.1% |
| استوګنځايونه | 110.8 | 111.5 | 110.9 | 111.6 | 102.9 | -0.6% | 7.7% |
| د کور سامان او لوازم | 130.4 | 132.3 | 130.2 | 133.4 | 133.5 | -1.4% | -2.3% |
| روغتيا | 148.1 | 147.0 | 146.4 | 144.9 | 146.7 | 0.8% | 1.0% |
| ټرانسپورټ | 129.1 | 130.5 | 128.5 | 127.8 | 130.6 | -1.0% | -1.1% |
| مخابرات | 90.7 | 90.9 | 90.8 | 90.9 | 94.0 | -0.2% | -3.5% |
| معلومات او کلتوري توکي | 108.4 | 109.3 | 109.2 | 110.3 | 108.7 | -0.9% | -0.3% |
| زده کړه | 142.1 | 141.0 | 139.8 | 141.2 | 142.9 | 0.8% | -0.6% |
| ريستورانتونه او هوټلونه | 113.6 | 112.6 | 113.0 | 113.2 | 114.8 | 0.9% | -1.1% |
| متفرقه توکي | 156.0 | 157.2 | 157.2 | 158.8 | 158.3 | -0.8% | -1.5% |
| **د اصلي بيو شاخص (له انرژۍ او خوراکي توکو ځخه پرته)** | **125.4** | **126.4** | **125.2** | **126.4** | **123.2** | **-0.8%** | **1.8%** |

| د تبادلې نرخ | اپريل 2025 | مارچ 2025 | فبروري 2025 | جنوري 2025 | اپريل 2024 | اپريل 2025 | اپريل 2025 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| افغانۍ/امريکايي ډالر | 71.64 | 71.11 | 73.75 | 74.84 | 71.93 | 0.7% | -0.4% |
| د تبادلې نومي موثر نرخ | 137.9 | 133.1 | 131.0 | 138.9 | 136.0 | 3.6% | 1.4% |
| د تبادلې حقيقي موثر نرخ | 83.7 | 80.3 | 79.6 | 83.9 | 90.2 | 4.3% | -7.2% |

| سوداګري | مارچ 2025 | فبروري 2025 | جنوري 2025 | دسمبر 2024 | مارچ 2024 | مارچ 2025 | مارچ 2025 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **ټول صادرات (ميليون ډالر)** | **100.0** | **127.0** | **149.0** | **190.9** | **136.9** | **-21%** | **-27%** |
| خوراکي توکي | 73.7 | 92.2 | 107.8 | 144.7 | 86.3 | -20% | -15% |
| د ډبرو سکاره | 5.2 | 6.7 | 7.6 | 8.4 | 5.9 | -22% | -11% |
| منسوجات | 11.6 | 16.3 | 20.0 | 18.7 | 33.8 | -29% | -66% |
| نور توکي | 9.4 | 11.8 | 13.6 | 19.1 | 10.9 | -20% | -14% |
| | | | | | | | |
| **ټول واردات (ميليون ډالر)** | **904.0** | **936.0** | **983.0** | **753.9** | **767.1** | **-3%** | **18%** |
| خوراکي توکي | 179.3 | 186.5 | 196.0 | 172.3 | 184.6 | -4% | -3% |
| معدني توکي | 205.1 | 210.6 | 218.9 | 141.3 | 131.8 | -3% | 56% |
| منسوجات | 57.4 | 59.9 | 63.6 | 59.2 | 59.0 | -4% | -3% |
| کيمياوي او اړونده صنعتي توکي | 72.9 | 73.9 | 76.6 | 47.0 | 55.0 | -1% | 33% |
| پلاستيک/رابر او ماشينري | 114.9 | 120.7 | 129.7 | 116.7 | 107.2 | -5% | 7% |
| د ټرانسپورټ اړوند وسايل | 87.4 | 90.4 | 94.8 | 57.0 | 72.9 | -3% | 20% |
| نور توکي | 187.1 | 194.0 | 203.4 | 160.2 | 156.7 | -4% | 19% |
| | | | | | | | |
| **سوداګريز کسر (ميليون ډالر)** | **804.0** | **809.0** | **834.0** | **563.0** | **630.2** | **-1%** | **28%** |

| مالي برخې | M1-FY2025 | M12-FY2024 | M11-FY2024 | M10-FY2024 | M1-FY2024 | M1-FY2025 | M1-FY2025 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **ټول عوايد (ميليارد افغانۍ)** | **18.5** | **29.6** | **21.2** | **16.5** | **16.6** | **-38%** | **11%** |
| داخلي مالياتي عوايد | 7.1 | 12.8 | 7.9 | 6.6 | 6.4 | -45% | 10% |
| ګمرکي محصول او فيسونه | 5.0 | 6.4 | 5.8 | 4.1 | 4.9 | -22% | 2% |
| غير مالياتي عوايد | 6.3 | 10.3 | 7.3 | 5.7 | 5.3 | -39% | 20% |
| متفرقه عوايد | 0.1 | 0.1 | 0.1 | 0.0 | 0.0 | 3% | 89% |
| | | | | | | | |
| **ټول لګښتونه (ميليارد افغانۍ)** | **17.3** | **24.2** | **23.7** | **24.0** | **11.6** | **-29%** | **49%** |
| معاشونه او مزدونه | 16.1 | 3.7 | 12.7 | 14.8 | 11.0 | 331% | 46% |
| د توکو او خدماتو لګښتونه | 1.2 | 12.9 | 7.5 | 7.0 | 0.6 | -90% | 103% |
| د پورونو بېرته تاديه او سود | 0.0 | 0.0 | 0.3 | 0.0 | 0.0 | - | - |
| سبسايډي/مرستې او ټولنيزې ګټې | 0.0 | 0.8 | 0.1 | 0.3 | 0.0 | - | - |
| د جايدادونو پېرل | 0.0 | 6.7 | 3.2 | 1.9 | 0.0 | - | - |

**د افغانستان په اړه د تحلیلي راپورونو د لیدلو لپاره، مهرباني وکړئ له لاندې ویبپاڼې څخه لیدنه وکړئ:**

https://www.worldbank.org/en/country/afghanistan.

د معلوماتو په اړه یادونه: د افغانستان اقتصاد څارنې راپور د نړیوال بانک د کارمندانو له خوا جوړیږي، چې له بېلا بیلو سرچینو څخه معلومات اخلي. د محدودو معلوماتو شتون په پام کې نیولو سره، معلوماتي سرچینې او پوښښ کېدای شي په مختلفو چاپونو کې توپیر ولري. د هر ګراف لپاره د معلوماتو سرچینې یادې شوې دي. د افغانستان اقتصاد څارنې راپور له لاندې سرچینو څخه معلومات کاروي: (i) د احصایې او معلوماتو ملي اداري (NSIA) له خوا تولید شوې د بیو رسمي احصایې; (ii) د خوړو نړیوال پروګرام له لوري له ټولو ولایتونو څخه د بیو او معاشونو په اړه راټول شوي معلومات; (iii) د افغانستان بانک له لوري د تبادلې د نرخونو راټول شوي او راپور شوي معلومات; او (iv) له اسیکودا څخه د سوداګرۍ په اړه تر لاسه شوي.